د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب، د ښوونک
او د ساينس د مرکز م
د تعليمي نصاب د پراختيا
کتابونو د تاليف لوی ر

# د قرآن کريم زده کړه

# او

# اسلامي ښوونه او روزنه

## دريم ټولگی

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش

**د پوهنې وزارت**
د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# د قرآن کريم زده کړه
# او
# اسلامي ښوونه او روزنه

## دريم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمیټې

**لیکوال:** سرمؤلف الحاج مولوي بسم الله بختیار د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

**سلاکاره کمیټه:**

۱ـ دکتور احسان الله د اسلامي علومو د دیپارتمنت آمر.

۲ـ سرمؤلف الحاج بسم الله بختیار د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی

۳ـ عبدالرقیب جهید د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

۴ـ سرمؤلف محمد انیس یونس د عربي ژبې او ادبیاتو د دیپارتمنت آمر .

۵ـ مولوي عبدالوکیل د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

٦ـ مؤلف شیر احمد مسعودی د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

۷ـ استاد رقیب الله ابراهیمي د اسلامي علومو د د یپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

۸ـ مایل آقا متقي د اسلامي علومو د د یپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

**د څېړنې او تدقیق کمېټه:**

۱ـ پوهاند عبد السلام عظیمي قاضي القضات او د سترې محکمې رئیس.

۲ـ قضاوت پوه استاد قیام الدین کشاف.

۳ـ قاضي نذیر احمد حنفي د ولسي جرګې د تقنین کمیسیون مرستیال.

۴ـ مولوي عبدالعزیز د ولسي جرګې د دیني ، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیون غړی .

۵ـ کرامت الله صدیق د حج او اوقافو وزارت د تدقیق کمیسیون رئیس.

٦ـ مولوي عین النعیم فیضي د علماؤ د سراسري شورا غړی .

۷ـ مولوي عنایت الله بلیغ د علماؤ د سراسري شورا غړی .

**د محتویاتو، سیاسي، فرهنګي، او دیني برخو د څېړنې او کره کتنې کمیټه:**

- ډاکټر عطاء الله واحدیار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئیس.
- دوکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلا کار.

## د تدقیق، تصحیح او څارنې کمیسیون:

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین
- دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس

**کمپوز او ډیزاین:**

رحمت الله غفاري او حمیدالله غفاري

**د مطالبو فهرست**


| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | د قرآن کریم د زده کړې مضمون | ۱________۱۰ |
| ۲ | د اسلامي ښوونې او روزنې مضمون : لومړی فصل: عقاید | ۱۱________۱۹ |
| ۳ | دویم فصل: عبادات | ۲۰________۴۷ |
| ۴ | دریم فصل: اخلاق | ۴۸________٦۰ |




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وزير پيغام

بسم الله الرحمن الرحيم

**گرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه ګرځېدلي ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قرآن کريم د زده کړې مضمون

## روان لوستل اويادول

## لومړی لوست

## د الاخلاص سورت

**هدف:**

دالاخلاص سورت روان لوستل اويادول.

**پوښتنې:**

آياکولای شئ چي د الاخلاص سورت په رواني ووایاست؟

دالاخلاص سورت په رواني ولولئ.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ ﴿١﴾ اَللهُ الصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ
يُوْلَدْ ﴿٣﴾ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ﴿٤﴾

**هڅونې**

١_ د الاخلاص سورت په رواني ولولئ.

٢_ د الاخلاص سورت په ياد ولولئ.

# دويم لوست

# د الکوثر سورت

**هدف:**

الکوثرسورت په روان لوستل اويادول.

**پوښتنې:**

- آيا کولای ، **شئ** چي دالکوثر سورت په رواني **ولولئ** ؟

## د الکوثر سورت په رواني ولولئ.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ﴿١﴾ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴿٢﴾ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ﴿٣﴾

**هڅونې:**

**١**. د الکوثر سورت روان ولولئ.

**٢**. د الکوثر سورت په يادو زده کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم لوست

## دالکافرون سورت

**هدف:**

د الکافرون سورت په یادو او روان لوستل

**پوښتنې:**

آیا کولای شئ، چې دالکافرون سورت په روانه ولولئ؟

**د الکافرون سورت په روانه ولولئ.**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
قُلْ يٰۤاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ۙ﴿۱﴾ لَاۤ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ۙ﴿۲﴾
وَلَاۤ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَاۤ اَعْبُدُ ۚ﴿۳﴾ وَلَاۤ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ۙ﴿۴﴾ وَ
لَاۤ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَاۤ اَعْبُدُ ؕ﴿۵﴾ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ﴿۶﴾

**هڅوني:**

۱_ د الکافرون سورت په روانه ولولئ.
۲_ د الکافرون سورت په یادو ووایاست.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم لوست

## د الفلق سورت

**هدف:**

د الفلق سورت په یادو او روان لوستل

**پوښتنې:**

آیا کولای شئ چې د الفلق سورت په روانه ولولئ؟

**د الفلق سورت په روانه ولولئ.**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿١﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿٢﴾ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا

وَقَبَ ﴿٣﴾ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِى الْعُقَدِ ﴿٤﴾ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ﴿٥﴾

**هڅوني:**

۱. د الفلق سورت په روانه ولولئ.

۲. د الفلق سورت په یادو زده کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم لوست

# د الناس سورت

**هدف:**

په یادو اوروانه د الناس سورت لوستل

**پوښتنې:**

ایاکولای شئ  د الناس سورت په روانه ولولئ؟

**د الناس سورت په روانه ولولئ.**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿٢﴾ اِلٰهِ النَّاسِ ﴿٣﴾
مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ الَّذِىْ يُوَسْوِسُ فِىْ
صُدُوْرِ النَّاسِ ﴿٥﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿٦﴾

**هڅونې:**

١. د الناس سورت په روانه ولولئ.
٢. د الناس سورت په یادو زده کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم لوست

## د العصرسورت

**هدف:**

د العصر سورت په روانه اويادو لوستل.

آيا كولاى شئ چي د العصر سورت په روانه ولولئ؟

**د العصر سورت په روانه ولولئ:**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

وَالْعَصْرِ ① اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ② اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ③

**هڅوني:**

د العصر سورت په روانه ولولئ.

العصرسورت په يادو زده كړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوم لوست

# د النصرسورت

**هدف:**

د النصر سورت په روانه اويادو لوستل

آيا کولای شئ چي د النصر سورت په روانه ولولئ؟

### د النصر سورت په روانه ولولئ؟

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ﴿١﴾ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ

اللَّهِ أَفْوَاجًا ﴿٢﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ﴿٣﴾

**هځوني:**

د النصر سورت په روانه ولولئ.

د النصر سورت په يادو زده کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم لوست

# د القدرسورت

**هدف:**

د القدر سورت په روانه لوستل

**پوښتنه:**

آیا کولای شئ د القدر سورت په روانه ولولئ؟

## د القدر سورت په روانه ولولئ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

إِنَّآ أَنْزَلْنٰهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ ﴿١﴾ وَمَآ أَدْرٰكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ﴿٢﴾ لَيْلَةُ

الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ﴿٣﴾ تَنَزَّلُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا

بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِّنْ كُلِّ أَمْرٍ ﴿٤﴾ سَلٰمٌ هِيَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ﴿٥﴾

**هڅونه:**

د القدر سورت په روانه ولولئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهم لوست

# د الزلزلة سورت


**هدف:**

د الزلزلة سورت په روانه لوستل.

**پوښتنه:**

آیا کولای شئ چې د الزلزلة سورت په روانه ولولئ؟

**د الزلزلة سورت په روانه ولولئ.**


بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴿١﴾ وَاَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا ﴿٢﴾
وَقَالَ الْاِنْسَانُ مَا لَهَا ﴿٣﴾ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا ﴿٤﴾ بِاَنَّ
رَبَّكَ اَوْحٰى لَهَا ﴿٥﴾ يَوْمَئِذٍ يَّصْدُرُ النَّاسُ اَشْتَاتًا ۬ لِّيُرَوْا
اَعْمَالَهُمْ ﴿٦﴾ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ﴿٧﴾ وَمَنْ
يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ﴿٨﴾

**هڅونه:**

د الزلزلة سورت په روانه ولولئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## لسم لوست

# دالعادیات سورت

**هدف**

د العادیات سورت په روانه لوستل.

**پوښتنه:**

آیا کولای شئ چې د العادیات سورت په روانه ولولئ؟

**د العادیات سورت په روانه ولولئ.**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
وَالْعٰدِيٰتِ ضَبْحًا ﴿١﴾ فَالْمُوْرِيٰتِ قَدْحًا ﴿٢﴾ فَالْمُغِيْرٰتِ صُبْحًا ﴿٣﴾
فَاَثَرْنَ بِهٖ نَقْعًا ﴿٤﴾ فَوَسَطْنَ بِهٖ جَمْعًا ﴿٥﴾ اِنَّ الْاِنْسَانَ لِرَبِّهٖ
لَكَنُوْدٌ ﴿٦﴾ وَاِنَّهٗ عَلٰى ذٰلِكَ لَشَهِيْدٌ ﴿٧﴾ وَاِنَّهٗ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيْدٌ ﴿٨﴾
اَفَلَا يَعْلَمُ اِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُوْرِ ﴿٩﴾ وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُوْرِ ﴿١٠﴾
اِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيْرٌ ﴿١١﴾

**هڅونه:** د العادیات سورت په روانه ولولئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اسلامي ښوونې اوروزنې مضمون

## لومړی فصل

## عقاید

## لومړی لوست

## طیبه کلمه

**هدف:** د طیبې کلمې سم تلفظ او اجمالي معنا زده کړه.

څوک کولای شي چې طیبه کلمه په سم ډول سره ولولي؟
څوک کولای شي چې د طیبې کلمې معنا ووایي؟

(لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللَّهِ)

**معنا: هیڅ لایق د عبادت نشته مګر یو الله دی، محمد صلی الله علیه وســـلم د الله تعالی پیغام راوړونکی ( پیغمبر) دی.**

**طیبه کلمهٔ د اسلامي عقیدې اساس او بنسټ دی، څوک چې طیبه کلمه په ژبه ووایي او په زړه کې یې په معنا باور او یقین وکړي مؤمن او مسلمان دی.**

**هڅوونې:**

۱- زده کوونکي دې د طیبې کلمې په معنا کې په ډله ییزه توګه مباحثه وکړي.

۲- زده کوونکي دې د طیبې کلمې معنا په فردي ډول سره بیان او شرح کړي.

**ارزونه:**

- ښاغلی ښوونکی دې د طیبې کلمې سم تلفظ زده کوونکو ته ورزده کړي.

---

**ښاغلی ښوونکیه!** د طیبې کلمې سم تلفظ تمرین او تکرار کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دويم لوست

# د ايمان رکنونه

**هدف:** د ايمان د رکنونو پيژندنه

مسلمانان په څو شيانو ايمان لري؟

**لاندې عبارت هغه شيان بيانوي چې مسلمانان پرې ايمان لري:**

**آمَنتُ بِاللّٰهِ وَمَلآئِكَتِهِ وكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَاليَومِ الآخِرِ وَالقَدرِ خَيرِهِ وَشَرِهِ مِنَ اللّٰهِ تَعالَى وَالبَعثِ بَعدَالمَوتِ.**

**ايمان لرم په الله تعالى او په ملآئکو د الله تعالى او په کتابونو د الله تعالى او په رسولانو د الله تعالى او په ورځ د قيامت او همدار نګه ايمان لرم په دې چې اندازه د خير اوشر د الله تعالى له لوري ده او له مرګ څخه وروسته په بيا ژوندون ايمان لرم.**

**هڅوونې:**

١ــ زده کوونکي دې د ايمان د رکنونو په هکله يو له بل څخه پوښتنې وکړي.

٢ــ زده کوونکي دې په ټولګي کې پورتنى متن تمرين او تکرار کړي.

**ارزونه:**

- آيا زده کوونکي د ايمان په رکنونو پوهيدلي دي؟

## دریيم لوست

# په الله تعالی ایمان

**هـــــدف:** دالله تعالی په ذات او صفتونو ایمان راوړل

موږ څرنګه په الله تعالی باندې خپل ایمان ښکاره کوو؟

**زه مسلمان یم. د الله تعالی په وجود ایمان لرم. دا مي یقین (باور) دی، چې الله تعالی یودی او په ذات او صفاتوکې هیڅ شریک نه لري.**

**له هر نقصان او عیب څخه پاک دی. د کمالیه صفتونو څښتن دی. په هرکار قادر دی. ټول موجودات الله تعالی پیداکړي دي. او ټول موجودات الله تعالی ته اړ (محتاج) دي او هیڅوک ، له الله (جل جلاله) پرته د عبادت لایق (وړ) نه دی.**

**هڅوونه:**

۱- زده کوونکي دې په ټولګي کې د الله تعالی د یووالي په هکله یو له بل سره خبرې وکړي.

**ارزونه:**

- هر زده کوونکی دې د الله تعالی په وجود له مخلوقاتو څخه یو دلیل راوړي او ښاغلی ښوونکی دې د هغه دلیل و ارزوي.

---

**نوټ:** ښاغلی ښوونکی دې د الله تعالی په برخه کې د زده کوونکو له سویې سره سم لازم معلومات وړاندې کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم لوست

## په ملائکو ایمان

**هـــــــدف:** د ملا ئکو پیژندل او په هغوی باندی ایمان لرل

آیا د ملائکو په هکله معلومات لرئ؟

**ایمان لرم چې د ملائکو په نامه یو موجود شته دی او له نورڅخه پیدا شوي دي د الله تعالی له امرونو څخه سر نه غړوي. ډیر ښه او نیکو کاره مخلوق دی، د ملائکو شمیر ډیر زیات دی. له دوی څخه ډیري مشهورې او الله تعالی ته نږدې ملائکې په لاندې ډول دي:**

1. **جبرائیل علیه السلام**
2. **میکائیل علیه السلام**
3. **اسرافیل علیه السلام**
4. **عزرائیل (ملک الموت) علیه السلام**

**هڅوونې:**

۱- شاګردان دې په ملائکو باندې د ایمان په هکله یو له بل سره خبرې وکړي.

۲- شاګردان دې د مقربو ملائکو په باره کی یو له بل څخه پوښتنې وکړي.

**ارزونه:**

- ملائکې څه ډول مخلوق دي؟
- د مقربو ملائکو شمیر څو دی؟
- الله تعالی ملائکې له څه شي څخه پیدا کړې دي؟

## پنځم لوست

# په آسماني کتابونو ایمان

**هـــــدف:** د آسماني کتابونو پیژندل او په هغو باندې ایمان لرل.

**ایمان لرو چې ټول آسماني کتابونه حق دي. د الله تعالی له خوا د انسانانو د لارښوونې لپاره نازل شوي دي.**

**د الله تعالی له لوري لوی کتابونه څلور دي:**

**۱. تورات**

**۲. زبور**

**۳. انجیل**

**۴. قرآن کریم**

**تورات په موسی علیه السلام، زبور په داؤد علیه السلام، انجیل په عیسی علیه السلام او قرآن عظیم الشان زموږ په پیغمبر، محمد صلی الله علیه وسلم باندې نازل شوی دی.**

**همدا رنګه په هغو صحیفو چې په ابراهیم علیه السلام او نورو انبیاؤ (علیهم السلام) باندې نازلې شوې دي ایمان لرو.**

**هڅوونې:**

۱– زده کوونکي دې د آسمآني کتابونو په باره کې یو له بل سره خبرې وکړي.

۲– زده کوونکي دې د آسماني صحیفو په باره کې یو له بل سره خبرې وکړي.

**ارزونه:**

- آسماني کتابونه د کوم غرض لپاره نازل شوي دي؟
- آسما ني کتابونه څودي؟
- آسماني کتابونه په کومو پیغمبرانو نازل شوي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږم لوست

# په رسولانو ایمان

**هـــــــدف:** په انبیاء علیهم السلام باندې د ایمان په هکله څه معلومات لرل

**مونږ ایمان لرو چې الله تعالی د انسانانو د لار ښوونې لپاره انبیاء علیهم السلام (پیغمبران) را لیږلي دي، تر څو خلک له بېلارې (ګمراهی) څخه وژغوري او د دنیا او اخرت د نیکمرغۍ او نجات لارې ورته وښيي.**

**د انبیا ؤ(علیهم السلام) لړۍ (سلسله) له ادم (علیه السلام) څخه پیل او په محمد (صلی الله علیه وسلم) باندی ختمه شوې ده. مونږ په ټولو انبیا ؤ ایمان لرو.**

**هڅوونې:**

۱– انبیاء دکوم هدف لپاره استول شوي دي، په دې باره کې دې دوه دوه تنه مباحثه وکړي.

۲– زده کوونکي دې د انبیا ؤ (علیهم السلام)د صفتونو په باره کې یو له بل څخه پوښتنې وکړی.

**ارزونې:**

- ایا زده کوونکي پوه شوي دي چې د انبیا ؤ (علیهم السلام) لړۍ په کوم نبي باندې پیل اوپه کوم ختمه شوې ده؟
- پیغمبران دکوم غرض لپاره مبعوث ( رالیږل) شوي دي؟

---

**ښاغلی ښوونکیه !** د پیغمبرانو د صفتونو په باره کې زده کوونکو ته په ســـاده ژبـــه معلومات ورکړئ. او دا خبره روښانه کړئ چې پیغمبرانو (علیهم السلام) په نیکـــو اخلاقو او پوره حوصلې خپلې دندې سرته رسولې او خلک یې د الله تعالی عبادت ته رابللي دي. ټول پیغمبران له لویې اوکوچنۍ ګناه څخه پاک دي، هغـــه کتابونـــه او صحیفې چې د الله تعالی له خوا ورته ورکړی شوي په پوره امانت سره یـــې د هغـــو احکام خلکو ته رسولي دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووم لوست

# د آخرت په ورځ ايمان

**هدف:** د آخرت په ورځ ايمان لرل او د هغه په باره کې فکر کول

**د آخرت ورځ هغه ورځ ده چې انسانان به په کې د دويم ځل لپاره ژوندي کيږي.**

**مورږ د آخرت د ورځې په حقانيت او ريښتياتوب ايمان او يقين لرو، په دې ورځ کې د انسانانو ښه او بد عملونه محاسبه کيږي.**

**د نيکانو لپاره ښه او د بد کارانو لپاره بده ورځ ده.**

**هڅوونې:**

- آيا دا دنيا تل ده که فاني کيږي؟ زده کوونکي دې په ډله ييزه توګه په دې هکله بحث وکړي.
- د اخرت په ورځ له انسانانو سره څه معامله کيږي؟ په دې باره کې خبرې وکړئ.

**ارزونې:**

- د آخرت ورځ کومه ورځ ده؟
- د آخرت ورځ د څه لپاره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اتم لوست

# قضاء او قدر

**هـــدف:** د دې مطلب پېژندل چې خير اوشر د الله تعالی له خوا تعين شوي دي

آيا د خير اوشر په باره کې څه معلومات لرئ؟

**مومږ مسلمانان ايمان لرو چې د خير او شر ټول کارونه د الله تعالی د علم، ارادې، او قدرت موافق موجوديږي او هيڅ شی د الله تعالی د علم ، ارادې او تقدير څخه پرته نه موجوديږي.**

**له دې امله تقدير د الله تعالی د کامل علم دليل دی.**

**همدارنګه مومږ پوهيږو چې انسانان د ښو او بدو کارونو په غوره کولو کې واک (اختيار) لري.**

**انسانان کولای شي چې ښه کار وکړي او ښه بدله (مکافات) تر لاسه کړي او هم کولای شي چې ناوړه کار وکړي چې د ده د سزا سبب شي.**

**هڅووني:**

١- زده کوونکي دې د خير او شر په باره کې خبرې وکړي.

٢- زده کوونکي دې د خير او شر د تقدير په باره کې مباحثه وکړي.

**ارزونه:**

- ايا زده کوونکي د خيراو شر د تقدير په معنا پوه دي او که نه؟

---

**سپارښت:**

ښاغلی ښوونکيه، د تقدير د مفهوم په باره کې زده کوونکو ته معلومات ورکړئ او پوه يې کړئ چې تقدير د اجبارمعنا نه لري، بلکې د الله تعالی د علم کمال دی چې له ازل څخه په ټولو شيانو علم لري او ټول افعال او حوادث د الله تعالی له تقدير سره سم پر ځای او تر سره کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهم لوست

# پس له مرګه په بیا ژوندون ایمان

**هـــــــدف:** د بیا ژوند په هکله یو څه معلومات اوپه هغه باندې ایمان لرل.

آیا له مرګ څخه وروسته د بیا ژوندون په هکله څه معلومات لرئ؟

**ایمان او باور لرو چې له مرګ څخه وروسته ژوندون حق دي. الله تعالی ټول انسانان د دويم ځل لپاره پيدا کوي او ابدي ژوند ورکوي. د الله جل جلاله له خوا ورسره د عملونو محاسبه کيږي. له محاسبې څخه وروسته نيکان جنت ته ځی او د بد کارانو ځای دوزخ دی.**

**هڅوونې:**

١– د بیا ژوند په بار ه کې دې زده کوونکي یو له بل سره خبرې وکړي.

٢– زده کوونکي دې په ډله ییزه توګه د بیا ژوند په باره کې خبرې وکړي؟

**ارزونه:**

ښاغلی ښوونکیه! له زده کوونکو څخه د بیا ژوندون په باره کې په ساده ژبه پوښتنې وکړئ او هغوی وارزوئ.

---

**ښاغلی ښوونکیه!**

د بیا ژوند په هکله زده کوونکوته پوره معلومات ورکړئ او پوه یې کړئ چې دویم ځل ژوندي کول د لومړي ځل له پیدا ینبت څخه اسان دي او الله تعالی قادر دی په هره لار چې وغواړي عَالَم د دويم ځل لپاره پیدا کولای شي.

## تمرين

**١. طيبه کلمه څه معنی لري؟**

**٢. د ایمان رکنونه ووایاست.**

**٣. په ملائکو باید څرنګه ایمان ولرو؟**

**۴. د لومړني او وروستني پيغمبرانو نومونه واخلئ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم فصل

## عبادتونه

## لسم لوست

## اودس

**هدف:** د اودس کولو زده کړه او عملي کول.

آیا د اوداسه فرضونه مو زده دي؟

**اودس څلور فرضونه لري:**

**۱. د ټول مخ وینځل (د سر د ویښتانو د شنه کیدلو له ځای څخه تر زنې لاندې او د غوږ له نرمۍ څخه د بل غوږ تر نرمۍ پورې)**

**۲. له څنګلوسره د دواړو لاسو نو وینځل**

**۳. د سر څلورمه برخه مسح کول**

**۴. له ښنګرو سره د دواړو پښو وینځل**

**هڅوونې:**

۱–زده کوونکي دې د اوداسه د فرضونو او د هغه د څرنګوالی په باره کې خبرې وکړي.

۲– د مخ د وینځلو اندازه دي زده کوونکي  ووایي.

**ارزونې:**

۱.  آیا زده کوونکي د اوداسه فرضونه پیژني؟

۲.  آیا زده کوونکي کولای شي چې اودس په سمه او بشپړه توګه وکړي؟

---

**ښاغلی ښوونکیه !** په څو تنو زده کوونکو عملاً اودس وکړئ  او له اسراف پرته د ښه او کامل اوداسه په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوولسم لوست

## د اوداسه سنتونه

**هـــــدف:** د اوداسه د سنتونو زده کړه او عملي کول.

آیا د اوداسه سنتونه پيژنئ؟

**د اوداسه سنتونه په لاندې ډول دي:**

**۱- نيت کول (د اوداسه قصد)**

**۲- د اوداسه په پيل کې بسم الله الرحمن الرحيم ويل**

**۳- تربندونو (مړوندو) پورې د دواړو لاسونو وينځل**

**۴- درې ځله مضمضه کول (خوله وينځل )**

**۵- مسواک وهل**

**۶- استنشاق کول ( درې ځله پوزه وينځل)**

**۷- د ږيرې خلالول که چيرې ګڼه وي**

**۸-د ټول سر مسح کول**

**۹-د دواړو غوږونو مسح کول**

**۱۰- د لاسونو او پښو د ګوتوخلالول**

**۱۱-د هغو اندامونو چې وينځل کيږي درې ځله وينځل**

**۱۲- له مبارک آيت سره سم په ترتيب د اندامونو وينځل**

**۱۳- د اندامونو پر له پسې وينځل**

**هڅوونې:**

۱- زده کوونکي دې دوه دوه تنه د اوداسه د سنتونو په باره کې يوله بل سره خبرې وکړي.

۲- زده کوونکي دې په ټولګي او يا کور کې عملاً اودس وکړي.

**ارزه ونې:**

۱. آيا زده کوونکو د اوداسه فرضونه او سنتونه زده کړي دي؟

۲. آيا زده کوونکي سم اودس کولای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دولسم لوست

# د اوداسه ځينې آداب (مستحب)

**هدف:** د اوداسه په ادبونو باندې پوهيدل

**د اوداسه په وخت کې پر جګ ځاى کښيناستل، قبلې ته مخ کول، له عذر پرته په اوداسه کې له چا څخه مرسته نه غوښتل، د اوداسه پر مهال له دنيوي خبرو څخه ځان ژغورل، د اوداسه پر مهال مسنونه دعاګانې لوستل، په لمدې شوې شهادت ګوتې د غوږونو د ننه مسح کول، که په ګوتو کې يې ګوته وي د هغې ښورول، په ښي لاس د خولې او پوزې پريمينځل او پوزه په کيڼ لاس پاکول، د اوداسه وروسته د شهادتينو (دطيبې کلمې او د شهادت د کلمې ) لوستل، په ولاړه د اوداسه د پاتې شويو اوبو څښل، دا دعا ويل (اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنْ التَّوَّابِينَ وَاجْعَلْنِي مِنْ الْمُتَطَهِّرِينَ) يا الله ما وګرځوې د توبه کوونکو او پاکانو څخه.**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې د اوداسه د ادبونو (مستحبو) په هکله په خپل منځ کې خبرې وکړي.

**ارزونې:**

آيا زده کوونکو د اوداسه د ادبو په هکله پوهه تر لاسه کړې ده؟

پوزه په کيڼ لاس ولې بايد پاکه شي؟

## دیارلسم لوست

# د استنجا کولو طریقه

**هدف:** د استنجا د طریقې پیژندل.

**دشرم د ځایونو پاکوالي ته استنجا ویل کیږي.استنجا په اوبو، لــوټې او تیږې سره کیدای شي.**

**که چیرې نجاست د شرم له ځای څخه تجاوز نه وي کړی، نو استنجا سنت ده او که لږ تجاوز یې کړی وي نو پرېمینځل یې واجب دي او که زیات تجاوز یې کړی وي، پر اوبو پاندې پریمینځل یې فرض دي.(۱)**

**په استنجا کې ښه طریقه داده چې په لوټه، تیږه او یا په بل شي استنجا وکړای شي او بیا په اوبو پرېمینځل شي.**

**په هلېوکو، خوشیو، سکارو، ډوډۍ او ښي لاس له استنجا کولــو څخــه ډډه وکړئ.**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې په ډله ییزه توګه د استنجا د ادبونو په هکله خبرې وکړي.

**ارزونې:**

آیا زده کوونکو د استنجا کولو د طریقې په هکله پوهه تر لاسه کړې ده؟

په کومو شیانو استنجا کول جواز نه لري؟

---

(۱) که نجاست له یوې روپۍ یا د لاس د ورغوي له اندازې څخه تجاوز کړی وي، پر اوبو باندې پرېمینځل یې فرض دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## څوارلسم لوست

# هغه اوبه چې اودس پرې روا دی

**هدف:** د پاکو اوبو پېژندل

**پاکوالی په اوو ډوله اوبو روا کېږي، چې لاندې بیان شویدي:**

**۱. د آسمان اوبه یعنې د باران اوبه**

**۲. د دریاب یا سمندر اوبه**

**۳. د ویالي اوبه**

**۴. د څاه اوبه**

**۵. هغه او به چې د واورې له ویلي کیدو څخه تر لاسه شوي وي.**

**٦. هغه اوبه چې د ږلۍ د ویلي کیدو څخه تر لاسه شوي وي.**

**۷. د چیني اوبه**

**پورتنۍ اووه ډوله اوبه چې له بل ناپاکه شي سره ګډې او یا مشکوکې نه شي اودس، غسل او نور هر ډول پاکوالی پرې جائز دی.**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې د پاکو اوبو په هکله یو بل ته معلومات ورکړي.

**ارزونه:**

آیا زده کوونکو د پاکو اوبو ډولونه وپیژندل؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځلسم لوست

# هغه اوبه چې اودس پرې روا نه دی

**هدف**: د هغو اوبو پیژندل چې اودس کول پرې جواز نه لري.

**په هغو اوبو اودس کول چې له ونو، بوټو اومېوو څخه ځبېښل شوې او یا پـه خپله راوتلې وي، جواز نه لري. همدارنګه په هغو اوبو اودس جواز نه لري چې په کې دکوم شی په ګډولو سره یې خپل طبیعت له لاسه ورکړی وي اویا وربانديې کوم بل شی زیات شوی وي، چې د اوبو له درېو صفتونو څخه یې یو صفت بدل کړي او یا یې د نرم والي او بهیدلو څخه یې ایستلي وي.**

**د اوبو درې صفتونه له خوند ، رنګ او بوی څخه عبارت دي. که له اوبو سره پاک شی ګډ شي، خو په عرف کې ورته اوبه نه ویل کیږي او بل نوم ورته اخیستل کیږي،لکه: شربت، ښوروا، چای اویا د ګلاب اوبه، نو په دې اوبو سره اودس کول جواز نه لري.**

**د اوداسه پرمهال چې کومې اوبه له لاسونو، مخ او پښو څخه توئیږي، ناپاکې نه دي، مګر ځان او جامې ساتل ترې غوره او بهتر دي.**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې د هغو اوبو په هکله یو تر بله خبرې وکړي، چې اودس کول پرې جواز نه لري.

**ارزونې:**

په کومو اوبو پاکوالی روا نه دی؟

د اوبو صفتونه کوم دي؟ بیان یې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپاړسم لوست

# په موزو باندې مسحه کول

**هدف:** پر موزو باندې د مسحې زده کول.

آیا پر موزو باندې مو مسحه کول زده دي؟

**موزه له څرمنې او هغې ته له ورته شیانو څخه جوړیږي، ښنګري او له هغو څخه زیاته پښنه پوښي، په حضر(کور) او سفر دواړو کې نارینه او ښځینه وو ته پر موزو باندې مسحه کول د دې له پاره جائز شوي دي تر څو مسلمانان په آسانۍ سره عبادت وکړي.**

**پرموزو باندې د مسحې کولو طریقه: که یو څوک اودس وکړي او موزې پښو کړي کولای شي لومنۍ ورسره وکړي ، که وغواړي بیا اودس وکړي، نو د لاس لمدې ګوتې دې د موزې په برسیره لوري د ګوتو له خوا د پنډۍ لوري ته را کاږي.**

**د مسحې موده: د مقیم لپاره یوه شپه او ورځ او د مسافر لپاره درې شپې او ورځې مسحه کول جواز لري، او لومنۍ ورباندې کولای شي.**

**دمسحې شرطونه: هغه شرطونه په لاندې ډول دي چې په پوره کیدو یې پر موزو باندې مسحه کول روا کیږي:**

**له اوداسه څخه وروسته د موزو په پښو کول.**

**موزې باید ښنګري وپوښي.  موزې باید داسې جوړې وي چې مزل ورسره وکړای شي.**

**د پښو د دریو وړو ګوتو په اندازه څیروالی ونه لري.**

**هغه شیان چې مسحه ماتوي:**

**هر هغه شی چې اودس ماتوي مسحه هم ماتوي.**

**که د مسحې په اوږدو کې په چاغسل واوړي د پښو پریمینځل واجب ګرځي، د دواړو موزو ایستل او یا د یوې موزې چې د پښې زیاته برخه ورڅخه ښکاره شي. د موزو څیرې والی چې د پښو د دریو وړو ګوتو په اندازه وي اود مسحې د وخت پوره کیدل.**

**هڅوونه:** زده کوونکي دې دښوونکي ترنظرلاندې پرموزو مسحه وکړي.

**ارزونې:** ۱ــ د موزو د مسحې طریقه بیان کړئ. ۲ــ د مقیم او مسافر د مسحې موده څه توپیر لري؟ ۳ــ که موزه ښنګری پټ نه کړي آیا مسحه ورباندې جائزه ده؟

۴ــ د دریو هغو شیانو نومونه واخلئ چې د موزو مسحهورباندې باطلیږي؟

## اووه لسم لوست

# په پټۍ باندې مسحه کول

**هدف:** په پټۍ باندې د مسحې کولو طریقه پېژندل.

**کوم غړی چې د ټپ او یا بل علت له امله نشو پرېمینځلی او مسح کول ورته هم زیان رسوي، که په ټوټه، یا پټۍ وتړل شي نو په ټوټې او یا پټۍ مسح کول لازم دي.**

**که چیرې پټۍ د ټپ د جوړوالي له کبله ولویږي، مسحه ماتیږي او د جوړ شوي ټپ د ځاي وینځل فرض دي.**

**د ټوټې او پټۍ تړلو په وخت کې اودس لرل او د دغه ځای پاکوالی شرط نه دی یعني که په بې اودسۍ وتړل شي کوم باک نه لري.**

**د ټپ د ټوټې او پټۍ بدلول روا دي. د بدلون په صورت کې په نوې ټوټه او پټۍ باندې مسح کول واجب نه دي خو غوره دي د موزو، پټۍ او د سر د مسحې لپاره نیت لازم نه دی، بلکې له نیت پرته هم صحیح ده.**

**هڅوونه:**

زده کوونکو ته دې د اسلام ددین دآسانتیاوو په هکله معلومات ورکړ شي اوپه خپل منځ کې دې په دې اړه خبرې وکړي.

**ارزونې:**

پټۍ څه ته ویل کیږي؟

که چیرې پټۍ په بې اودسۍ وتړل شي، څه حکم لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتلسم لوست

# د اوداسه ماتوونکي

**هـــــدف:** د اوداسه د ماتوونکو پیژندنه.

ایا کولای شئ د اوداسه د ماتوونکو نومونه واخلئ؟

**د اوداسه ماتوونکي په لاندې ډول دي:**

**۱– له انسان څخه د څه شي راوتل (باد ، بولې، او یا غائطه مواد )**

**۲– له بدن څخه د وینې یا زوې بهیدل**

**۳–په ډکه خوله کانګې (قی) کول**

**۴– خوب کول**

**۵– بې سده (بې هو شه) کیدل**

**٦– په لمانځه کې په قهقه خندا کول**

**هڅوونه:**

۱– زده کوونکي دې د اوداسه ماتوونکي په ډله ییزه توګه یو له بل څخه وپوښتي.

**ارزونه:**

- ایا زده کوونکو د اوداسه ماتوونکي زده کړي دي؟

---

**ښاغلی ښوونکی** دې د ښوونځي د چاپیریال د پاک ساتنې په نظر کې نیولوسره د اوداسه ماتوونکي زده کوونکو ته ور زده کړي او وخت دې ورکړي چې په دې هکله فکر او خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نولسم لوست

# غسل

**هـــــدف:** د غسل کولو پیژندنه

ځوک کولای شي چې د غسل په هکله معلومات ورکړي؟

دغسل په باره کې څه معلومات لرئ ویې وایئ.

**د ټول بدن وینځلو ته غسل وايي.**

## ۱– د غسل فرضونه:

**په غسل کې درې شیان فرض دي:**

**۱_ په سم ډول د خولې وینځل    ۲– په سم ډول د پوزې وینځل**

**۳– د ټول بدن (ځان) وینځل**

## ۲_ د غسل سنتونه:

**د غسل سنتونه په لاندې ډول دي:**

**۱. تر بندونو پورې د دواړو لاسونو وینځل**

**۲. استنجا کول**

**۳. مکمل اودس کول**

**۴. له بدن څخه د نجاست لرې کول**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې په ټولګي کې د غسل کولو په هکله معلومات ورکړي.

**ارزونه:**

- ایا زده کوونکو د غسل کولو طریقه، فرض او سنت زده کړي دي؟

## شلم لوست

# د غسل کولو طریقه

**هدف:** د غسل کولو د طریقې زده کول

## د غسل مسنونه طریقه:

**تر ټولو د مخه بسم الله الرحمن الرحیم ویل. بیا تر بندونو پورې د دواړو لاسونو پریمینځل. له بدن څخه د ظاهري نجاست پاکول، استنجاء کول، د لمانځه د اوداسه په شان اودس کول او درې ځلې خپل ټول بدن په ښه توګه پریمینځل، چې هر ځای ته اوبه ورسیږي.**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې د غسل کولو طریقه په خپلو منځونو کې د کیسې په شکل تکرار کړي.

**ارزونه:**

آیا زده کوونکو د غسل مسنونه طریقه زده کړې ده؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تمرین

۱. د اوداسه فرضونه کوم دي؟

۲. د اوداسه سنتونه څو دي؟

۳. د اوداسه آداب ووایئ؟

۴. د استنجا آداب ووایئ؟

۵. د اوداسه ماتوونکي کوم دي؟

٦. په څو ډوله اوبو اودس کول روا دي؟

۷. په کومو اوبو اودس کول جواز نه لري؟

۸. د مقیم او مسافر د موزو د مسحې موده څومره ده؟

۹. په پټۍ باندې د مسحې مفهوم څه دی؟

۱۰. د غسل فرضونه بیان کړئ؟

۱۱. د غسل ترتیب څنګه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یوویشتم لوست

# تیمم

**هـــــدف:** د تیمم د روا والي د ځایونو پېژندنه
په کومو حالاتوکې د غسل او اوداسه پر ځای تیمم کوو؟

**تیمم شرعي پاکوالی دی چې په لاندې حالاتو کې روا ګڼل کېږي:**

**۱- کله چې اوبه نه وي.**

**۲- کله چې اوبه د یو میل په اندازه لرې وي.**

**۳- کله چې انسان ناروغ وي او د اوبو استعمال ورته زیان رسوي.**

**۴- د دښمن یا ځیروونکي حیوان ویره موجو ده وي.**

**۵- که د جنازې، یا اخترونو د لمانځه د فوت (تیریدلو) ویره موجوده وي. په دې وخت کې هم تیمم کول روادي.**

**هڅوونه:**

۱- کوم حالتو نه چې تیمم په کې روا دی، یو له بل څخه یې پوښتنه وکړئ.

**ښاغلی ښوونکیه !** پورتني مطلبونه په ساده ژبه زده کوونکو ته ووایاست تر څو زده کوونکي وکړای شي هغه په آسانۍ زده کړي.
زده کوونکو ته روښانه کړئ، چې د اسلام مبارک دین په پورتنیو حالتونو کې تیمم د آسانۍ په پام کې نیولو سره روا کړی دی او اسلام د آسانۍ او سهولت دین دی.

---

**نوټ:** یو شرعي میل تقریباً ( ۱۶۲۹) متره دی.

## دوه ویشتم لوست

# د تیمم د نیت او طریقې پیژندل

**هدف:** د تیمم کولو وړتیا تر لاسه کول.

له تاسو څخه څوک تیمم کولای شي؟

**په تیمم کې دوه شیان فرض دي:**

- **نیت، چې د تیمم کوونکي له قصد او ارادې څخه عبارت دی.**
- **په ځمکه او یا هغه شي باندې د دواړو لاسونو دوه ځله وهل، چې د ځمکې له جنس څخه وي او په مخ او لاسونو باندې د هغو موښل.**

## د تیمم کولو طریقه

**تیمم کوونکی دې له نیت کوولو څخه وروسته خپل لاسونه په پاکه ځمکه او یا هغه شي چې د ځمکې له جنس څخه وي، ووهي. وروسته دې خپل لاسونه څنډه وهي او خپل ټول مخ دې پرې مسحه کړي. بیا دې د دویم ځل لپاره خپل لاسونه په ځمکه ووهي. له یو څه څنډلو وروسته دې په خپل ښي لاس، کیڼ لاس او په کیڼ لاس دې ښی لاس له څنګلو سره مسحه کړي.**

**هڅوونې:**

۱. زده کوونکي دې د تیمم عملیه په ټولګي کې عملي کړي.

۲. زده کوونکي دې د تیمم او اوداسه د توپیر په باره کې په خپلو منځونو کې خبرې وکړي.

**آرزونې:**

ایآ زده کوونکي کولای شي چې په سم ډول تیمم وکړي؟

ایا زده کوونکي پوهیږي چې په کومو شیانو تیمم کول جواز لري؟

ښاغلی ښوونکی دې پورتني مطالب زده کوونکو ته په ساده ژبه څرګند کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# درویشتم لوست

## د لمانځه د فرضیت شرطونه

**هدف:** د لمانځه د فرضیت د شرطونو پیژندل.

**لمونځ د اسلام د ویمه بنا ده. د لمانځه اداء کول د ایمان نښه او د لمانځه پریښودل د کفر نښه ده.**

**د لمانځه فرضیت په لاندې شرایطو پورې تړلی دی:**

**۱. اسلام: په کافر باندې لمونځ فرض نه دی.**

**۲. بلوغ: تر هغه چې هلک او نجلۍ بلوغ ته نه وي رسیدلي، لمونځ پرې فرض نه دی.**

**۳. عقل: په لیوني باندې لمونځ فرض نه دی.**

**۴. د ښځو لپاره له حیض او نفاس څخه پاکوالی شرط دی.**

**۵. د لمانځه د وخت داخلیدل.**

**که له نوموړو شرطونو څخه یو شرط کم وي، لمونځ فرض نه دی.**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې د لمانځه د فرضیت شرطونه په خپلو منځونو کې تکرار کړي.

**ارزونه:**

آیا زده کوونکو د لمانځه د فرضیت شرطونه زده کړي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلیرویشتم لوست

## لمونځ

**هدف:** لمانځه ته د زده کوونکو پام اړول

**لمونځ د اسلام دویمه بنا ده.  په هر مسلمان باندې لازم دي، چې خپل اولاد په اووه کلنۍ کې لمونځ کولو ته وهڅوي او په لس کلنۍ کې يې د لمانځه په نه کولو تهدید کړي.**

**د ماشومانو په لمونځ کولو سره هم هغوی او هم د هغوی مور او پلار ته ثواب ورکول کیږي.**

**کله چې ماشومان په جومات کې لمونځ کوي، نو باید په وروستیو صفونو کې ودریږي او د لمانځه ټول آداب مراعات کړي.**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې د لمانځه د ښېګڼو په هکله یو له بل سره خبرې وکړي.

**ارزونه:**

آیا زده کوونکي د لمانځه په کولو پوهیږي؟

---

ښاغلی ښوونکی دې لوست د پوښتنې او ځواب په ډول تکرار او د زده کوونکو فهم دې وارزوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځه ویشتم او شپږویشتم لوست

# د دوه رکعتي لمانځه د اداء کولو طریقه

**هدف:** دلمانځه دطریقې زده کړه

له تاسي څخه کوم یو کولای شي د صنف په وړاندې دوه رکعته لمونځ و کړي؟

څوک چې غواړي دوه رکعته لمونځ اداء کړي باید له ځان، جامو ځاي پاکولو عورت پټولو او د وخت له داخلیدو وروسته د مخ په قبله ودریږي، نیت دې وکړي او دواړه لاسونه دې د غوږونو تر نرمیو پوري د الله اکـــــــبر په ویلو اوچت کړی. بیا به ښی لاس پر کیڼ لاس باندې تر نامه لاندې وتړي، (سبحانک اللهم و بحمدک و تبارک اسمک و تعالي جدک و لا اله غیرک) دې ووایي بیا دې د ( اعوذ بالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم) له ویلو وروسته الحمد لله ترپایه ووایي او په آخر کې دې آمین ور زیات کړي، بیا دې درې لنډ او یا یو اوږد آیت تلاوت کړي. د تکبیر په ویلو دې رکوع ته ولاړشي، په رکوع کې دې لږ ترلږه درې ځله (سبحان ربي العظیم) ووایې، بیا دې د (سمع الله لمن حمده ربنا لک الحمد) په ویلو له رکوع څخه سر اوچت کړي او سم دې ودریږي. له لږ ځنډ وروسته دې د تکبیر له ویلو وروسته سجدې ته لاړشي او په سجده کې دې لږ ترلږه درې ځلې (سبحان ربي الاعلي) ووایي او بیا دې د الله اکـــــبر په ویلو له سجدې څخه سر را اوچت او

**کرار دې کيني له لږ ځنډ وروسته دې بيا د الله اکبر په ويلو دويم ځل سجده وکړي او لږ ترلږه درې ځلې دې (سبحان ربي الاعلي) ووايي. بيا دې د تکبير په ويلو دويم رکعت ته ودريږي. دويم رکعت له (سبحانک اللهم) او (اعوذ بالله) او له دې پرته چې لاسونه غوږونو ته وروړي، په بسم الله الرحمن الرحيم شروع کوي او د لومړي رکعت په څير يې پای ته رسوي. د دويم رکعت له دويمې سجدې وروسته دې ښی پښه ودروي او کينه پښه دې وغوړوي او ورباندې دې کيني. لاسونه دې په زنګنونو باندې کيږدي اوتشهد (التحيات لله......) درود (اللهم صلّ على....) او دعا (اللهم ربنا) دې ووايي او د (السلام عليکم ورحمة الله) په ويلو به ښي اوکيڼې خواته مخ وګرځوي.**

**هڅونه:**

- زدکوونکي دې د لمانځه د طريقې په باره کې يو له بل سره خبرې وکړي.

محترم ښوونکی دې دا لوست په ساده ژبه ووايي او لمونځ دې عملاً په څو شاګردانو باندې وکړي.

د دوه رکعتې ، څلور رکعتې، تشو او ډکو رکعتونو په باره کې دې هم رڼا واچوي.

---

**ښاغلی ښوونکيه** ! مهرباني وکړئ هغه توپيرونه چې د نارينه وو او ښځينه وو د لمانځه په ځينو افعالو کې موجود دي، لکه د عورت اندازه، د لاسونو ايښودل په سينه باندې، په جلسه کې کيناستل او سجده کول. زده کوونکو ته په دې باره کې پوره معلومات ورکړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږ ویشتم لوست

## د لمانځه وختونه

**هدف:** د لمانځه د وختونو پیژندل

لمونځ په شپه او ورځ کې څو وخته فرض دی؟

**لمونځ په یوه شپه او ورځ کې په هر مکلف مسلمان باندې پنځه ځلې فـــرض دی.**

**هر لمونځ ځانګړی وخت لري، چې په لاندې ډول بیانیږي:**

**۱. د سهار لمونځ: د صبح صادق له راختلو څخه د لمر ختلو پورې**

**۲. د ماسپیښین لمونځ: د لمر له زوال څخه د هر شي د سیورې تر دوه برابره کیدو پورې**

**۳. د مازیګر لمونځ: د هرشي د سیورې له دوه برابرۍ څخه د لمر تر لویدو پورې**

**۴. د ماښام لمونځ: د لمر له لویدو څخه د شفق تر ورکیدو پورې**

**۵. د ماخوستن لمونځ: د شفق له ورکیدو څخه د صبح صادق تر راختلو پورې**

**هڅونه:**

۱ــ زده کوونکی دې د ورو، ورو ډلو په ترڅ کې د لمانځه د وختونو په هکله سره خبرې وکړي.

---

**سپارښتنه:** ښاغلی ښوونکی دې د تدریس په پیل کې د اسلام له پنځو بناووڅخه بیا یا دونه وکړي لوست دې د پوښتنې اوځواب په ډول تکرار کړي او نتیجه دې ورڅخه واخلي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووه ویشتم لوست

## د لمانځه مکروه وختونه

**هدف:** د لمانځه د مکروه وختونو پیژندنه

په مکروه وختونو کې له لمونځ کولو څخه ځان ساتل

آیا مکروه وختونه پیژنئ؟

**لمونځ په ټاکلي وخت فرض شوی دی. هر لمونځ ځانګړی وخت لري، چې د صحیح وخت په نامه یادیږي. ځینې وختونه شته چې مکروه وختونه ورته ویل کیږي.**

**په مکروه وختونو کې له لمونځ کولو څخه باید ډډه وشي.**

**مکروه وختونه درې دي:**

**۱. د لمر ختلو وخت تر څو ښه راجګ شي**

**۲. د استوا ( په سر باندې د لمر ودریدل) تر څو له سر څخه واوړي**

**۳. د لمر زیړیدلو وخت تر څو پریوځي**

**هڅونې:**

۱. مکروه وختونه یو له بل سره تکرار کړئ.

۲. هر زده کوونکی دې د یو مکروه وخت نوم واخلي.

**ارزونې:**

۱. آیا زده کوونکو مکروه وختونه پیژندلي دي؟

۲. زده کوونکي دې په خپل منځ کې د مکروه وختونو په باره کې خبرې وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## اته ویشتم لوست

# د لمانځه فرضونه

لمونځ (۱۵) فرضونه لري، چې د هغو له جملې څخه اته (۸) د لمانځه څخه بهر او اووه (۷) نور یې په لمانځه کې داخل دي. د لمانځه بهرني فرضونه د لمانځه د شرطونو په نامه او داخلي فرضونه یې د لمانځه د رکنونو په نامه یادیږي.

**الف: د لمانځه شرطونه:**

د لمانځه شرطونه یا (بهرني فرضونه ) په لاندې ډول دي:

۱. طهارت یعني اودس لرل
۲. د عورت پټوالی ( باید پوه شو چې د نارینه عورت د نامه لاندې تر ځنګنونو پورې دی.) او د ښځو له ( مخ، ورغویو او تر ښنګرو پورې پښو) څخه پرته ټول بدن عورت ګڼل کیږي.
۳. له ظا هري نجاست (ناپاکی) څخه د بدن پاکوالی
۴. له نجاست څخه د جامو پاکوالی
۵. د هغه ځای پاکوالی چې لمونځ وربانډی اداء کیږي
۶. د قبلې لور ته مخامخ دریدل
۷. د لمانځه نیت کول



(c) ketabton.com: The Digital Library

۸. تکبیر اولی (لومړنی تکبیر).

## ب: د لمانځه داخلي فرضونه:

د لمانځه داخلي فرضونه په لاندې ډول بیانیږي:

۱. قیام ( په ولاړه لمونځ کول)

۲. قرائت(لږ ترلږه د یو اوږد یا دریو لنډو آیتونو لوستل )

۳. رکوع کول

۴. سجده کول

۵. وروستی قعده (ناسته)

٦. له لمانځه څخه السلام علیکم ورحمة الله په ویلو سره وتل.

۷. په هغو فرضو کې د ترتیب رعایت چې په لمانځه کې یو ځلې راغلي وي.

نوټ: لمونځ کوونکی باید په داسې عمل سره له لمانځه څخه خارج نه شی چې لمونځ ورباندې فاسدیږی.

**هڅونه:**

زده کوونکي دې د لمانځه د داخلي فرضونوپه باره کې یوله بل څخه پوښتنه وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهه ویشتم لوست

# د لمانځه د رکعتونو شمیر

**هـــــدف:** د پنځه ګونو لمونځونو د رکعتونو پیژندنه

**د سهار لمونځ څلور رکعته دی. لومړي دوه رکعته يې سنت او وروستني دوه رکعته يې فرض دي**

**د ماسپښين لمونځ لس رکعته دی. چې څلور لومړني يې سنت بيا څلور رکعته فرض او وروسته دوه رکعته سنت اداء کيږي**

**د مازيګر لمونځ څلور رکعته فرض دی**

**د ماښام لمونځ پنځه (۵) رکعته دی، چې درې (۳) لومړني رکعتونه يې فرض او دوه وروستني رکعته يې سنت دي**

**د ماخوستن لمونځ نهه رکعته دی: لومړني څلور رکعته يې فرض، بيا وروسته دوه رکعته سنت او په پای کې درې رکعته وتر لمونځ دی.**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې د پنځه ګونو لمونځونو د رکعتونو، فرضونو اوسنتونو په باره کې په خپلو منځونو کې خبرې وکړي.

## دیرشم لوست

# وتر لمونځ

**هدف:** د وتر لمانځه د طريقې پيژندل

**د وتر لمونځ درې رکعته دی وترلمونځ واجب دی چې په هر رکعت کې يې د فاتحې سورت له يو بل سورت سره يو ځای ويل کيږي. لمونځ کوونکی به په دويم رکعت کې قعده کوي او تشهد به وايي. په دريم رکعت کې کله چې له قرائت څخه وزګار شي، نو له رکوع څخه مخکې به تکبير وايي، لاسونه به د غوږونو تر نرميو پورې پورته کوي، بيا به يې تر نامه لاندې تړي، او په ولاړي به د قنوت دعا وايي، بيا به تکبير وايي او رکوع ته به ولاړ شي.**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې د وتر لمونځ په عملي توګه په ټولګي کې اداء کړي.

**ارزونې:**

د قنوت دعا کله لوستل کيږي؟

وتر لمونځ څو رکعته دی؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو دیرشم لوست

# د قنوت دعا (لومړۍ برخه)

**هــــــدف:** د قنوت د دعا زده کړه ( لومړۍ برخه )

**اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُك وَنَسْتَغْفِرُك وَنُؤْمِنُ بِك وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْك وَنُثْنِـــي عَلَيْــك الْخَيْــرَ وَنَشْكُرُك وَلَا نَكْفُرُك وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَفْجُرُك.**

**ښاغلی ښوونکیه!**

د قنوت دعا په زده کوونکو یاده کړئ او هغوی ته څرگنده کړئ چې دا دعا د وتر لمانځه په دریـــم رکعت کې د سورت له ویلو وروسته په داسې توگه ویل کیږي، چې الله اکبـــر وایـــو او لاســـونه د غوږونو تر نرمیو پورې پورته کوو بیا د قنوت دعا وایو.

---

نوټ: د د ی لپاره چې زده کوونکي د قنوت دعا په آسانه توگه زده کړي دغه دعا په دوو درسونو باندې وویشل شوه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوه دېرشم لوست

# د قنوت دعا (دويمه برخه )

**هدف:** د قنوت دعا زده کړه (دويمه برخه)

اللَّهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَك نُصَلِّي وَنَسْجُدُ وَإِلَيْك نَسْعَى وَنَحْفِدُ ونَرْجُو رَحْمَتَك وَنَخْشَى عَذَابَك إنَّ عَذَابَك بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ

---

**ښاغلی ښوونکيه!** په زده کوونکو د قنوت دعا په مکمله توګه په يا دوزده کړئ او هغوی ته د ويلو ځای ور په ګوته کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

درې دېرشم لوست

# د لمانځه ذکرونه

**هدف:** د لمانځه د ذکرونو او دعاګانو تکرارول

**لمونځ د الله تعالی د یادولو تر ټولو غوره او ښه وسیله ده او انسان تر بل هر عمل الله تعالی ته په آسانۍ سره ورنږدې کوي.**

**د لمانځه د صحیح اداء کولو لپاره لازم دي، چې د لمانځه ذکرونه اودعاګانې په ښه ډول زده کړو.**

**د لمانځهٔ ذکرونه دا دي:**

**۱ــ ثناء:** سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ.

**۲ــ تشهد:** اَلتَّحِياتُ لِلّٰهِ وَالصَّلوٰةُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلاَمُ عَلَيکَ اَيهَاالنَّبِیُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ اَلْسَّلاَمُ عَلَينَا وَعَلٰى عِبَادِاللهِ اَلصَّالِحِينَ اَشهَدُ اَنَّ لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَ اَشهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً عَبدُهُ وَرَسُولُهُ

**۳ــ درود شریف:** اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.

**دعا:** اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ.

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې د لمانځه تسبیحات تکرار کړي.

**ارزونه:**

آیا زده کوونکو د لمانځه تسبیحات زده کړي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلور دېرشم لوست

## د جومات ادبونه

**هدف:** د جومات د ادبونو پيژندل

څوک کولای شي چې د جومات ادبونه په لنډه توګه ووايئ؟

**جومات د مسلمانانو د عبادت ځای دی. په جومات کې لمونځ اداء کيږي. کله چې مؤمن جومات ته داخليږي، نو لانديني ادبونه دې مراعات کړي:**

**جومات ته د ننوتلو په وخت کې بايد ښۍ پښه مخکې کړي او دا دعا ووايــي (اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ) که چيرې مکروه وخت نه وو، نو نفــل لمونځ دې اداء کړي له بې ګټو خبرو څخه دې ځان وساتي. د قرآن کريم په تلاوت يا د تسبيحاتو په ويلو دې ځان بوخت کړي له جومات څخه د وتلو پر مهال دې کينه پښه مخکې کړي او دا دعا دې ولولي (اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِکَ). د جومات پاک او سوتره ساتل د هر مسلمان دنده ده.**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې په ډله ييزه توګه د جومات د ادبونو په باره کې خبرې وکړي.

**ارزونې:**

آيا زده کوونکو د جومات ادبونه ياد کړي دي؟

ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکو ته د جومات د ادبونو په هکله معلومات ورکړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم فصل اخلاق

## پنځه دېرشم لوست

## حقوق

**هدف:** دحقوقو پیژندل اومراعت کول

**حقوق د حق جمع ده. د هغه مصلحت، ګټې او ځانګړتیا په معنا دي، چې د اسلام د مبارک دین له پلوه چا ته ورکړل شوي وي.**

**زموږ په سپیځلي دین کې حقوق په دوو مهمو ځانګو ویشل شوي دي. حقوق الله ( د الله تعالی حقوق په بندګانو ) او حقوق العباد ( د بندګانو حقوق په بندګانو )**

**د دواړو حقونو اداء کول پر موږ مسلمانانو باندې فرض دي. د الله تعالی حق پر بندګانو دا دی، چې یوازې د هغه عبادت وکړي او د بندګانو حق یو پربل باندې دا دی، چې د هر یو سړي ځان، مال او آبرو ورته محترمه وي او هیڅ ډول تیری ورباندې ونه کړي.**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې د حقونو د ډولونو په هکله یو له بل سره خبرې وکړي.

**ارزونه:**

آیا زده کوونکو د حقونو ډولونه پیژندلي دي؟

# شپږدېر شم لوست

## د ښو اخلاقو پايلې

**هدف:** د ښو اخلاقو د پايلو پېژندنه

**د اسلام مبارک دين چې کوم فضيلت ښو اخلاقو ته ورکړی دی هغه د اخلاقو د ښو پايلو پر بنسټ دی.**

**د ښو اخلاقو پايلې هم په دنيا کې او هم په آخرت کې ښکاره کيږي.**

**څوک چې ښه اخلاق ولري، ډېر زر کولای شي د خلکو زړونو ته لاره پيدا کړي او هر چاته ګران شي.**

**کله چې د يوې ټولنې وګړي په ښو اخلاقو سمبال وي، د هغو تر منځ وروروګلوي او اعتماد پيدا کيږي. نو داسې ټولنه چې غړي يې يو پر بل باندې باور او اعتماد ولري د خپل ځان لپاره د پرمختګ او ترقۍ لاره پرانيزي.**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې د ښو اخلاقو د پايلو په هکله يو له بل سره خبرې وکړي.

**ارزونه:**

آيا زده کوونکي د ښواخلاقو د پايلو په باره کې په څه پوهيدلي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووه دیرشم لوست

# د مور او پلارحقوق

**هدف:** د مور او پلار د حقونو پیژندل او مرا عاتول.

له مور او پلا ر سره څنګه چلن وکړو؟

**مور او پلار پرموږ ډیر زیات حقونه لري. دوې په کوچنیوالي کې زموږ د ژوند لپاره کړاوونه ګاللي دي. په قرآن عظیم الشان کې د دوې په هکلـــه داســـې لاربنوونه شوې ده:**

**(له خپل مور او پلار سره نیکي وکړئ. دوی مه ازاروئ. په نرمۍ ورسره خبرې کوئ.)**

**محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې فرمایلي دي:**

**(د الله تعالی رضا د مور او پلار په رضا کې ده.)**

**هڅوونې:**

١. زده کوونکي دې د مور او پلار د رضا مندۍ په هکله یوله بل سره خبرې وکړي.
٢. د مور او پلار د رضا مندۍ په باره کې یوه یوه کیسه بیان کړئ.

**ارزونه:**

- ښاغلی ښوونکی دې له زده کوونکو څخه د لوست د موضوع په هکله پوښتنې وکړي او مهارت او ذهنیت دې و ازمايئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښوونکي حقونه

**هـــدف:** د ښوونکي د حقونو پيژندنه او درناوی

**ښوونکی د بلې ډيوې په څير دی چې په خپله سوزي او ټولنه روښانه کوي. ښه ښوونکی تل زيار باسي، چې خپلو شاګردانو ته سمه لارښوونه وکړي. د هغوی د پوهولو لپاره له مينې او مهربانۍ څخه کار اخلي او له ناوړه سلوک څخه ځان لرې ساتي. ښه ښوونکی د معنوی پلار حيثيت لري. نو موږ بايد د هغه درناوی وکړو او مينه ورسره ولرو. علی کرم الله وجهه ويلي دي (څوک چې ماته يو توری راوښيي زما مولا دی.) ښوونکو ته بايد تل په سلام ويلو او درناوي هرکلی ووايو او د هغوی سمې لارښوونې ومنو.**

**هڅوني:**

١. زده کوونکي دې د ښوونکي د حقونو په هکله خبرې وکړي.
٢. زده کوونکي دې د پوښتنې او ځواب په توګه د ښوونکي حقونه بيان کړي.

---

**ښاغلی ښوونکی** دې مهرباني وکړي او زده کوونکو ته دې د ښوونکوحقوق روښانه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهه دېرشم لوست

## د خپلوانو حقونه

هـــــدف: د خپلوانو د حقونو پيژندنه

**خپلوان د اسلام د مبارک دين له مخې ډېر زيات حقونه لري، چې بايد درناوی يې وشي. له هغوی سره راشه درشه ولرو، کومک ورسره وکړو، دوست يې وګڼو، غيبت او داسې چلن ورسره ونه کړو چې هغوی پرې خپه کيږي، د هغوی په منځ کې هر وخت سوله او د خير غوښتنه وکړو، تر څو وکړای شو په خپله کورنۍ، کلي، ټولنه او ښار کې نيکمرغي خوشحالي او سوله ټينګه کړو.**

**هڅووني:**

١ – له خپلوانو سره د تګ را تګ اوله هغوی سره د ښو اړيکو په باره کې خبری وکړئ.

٢– له خپلوانو سره د ښېګڼې کولو په هکله دې خبرې وشي.

---

**ښاغلی ښوونکی** دې د خپلوانو معنی زده کوونکو ته پوره څرګنده کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلوېښتم لوست

# د استوګنې د چاپېريال ساتنه

**هـــــــدف:** د استوګنې د چاپېريال پېژندنه او د هغه پاکوالي ته پاملرنه

**هغه ځای، چې په کې ژوند کوو د استوګنې چاپېريال يې بولي. کور، انګړ، کوڅه، مسجد ، مدرسه، مکتب يا هغه لاره چې تګ را تګ په کې کوو، ټول زموږ د استوګنې چاپېريال ګڼل کېږي. د دې ټولو په پاک ساتلو کې بايد پوره برخه واخلو. خپل انګړ بايد تل پاک وساتو. هغه ناپاک شيان چې له انګړ څخه جارو شوي وي، په عامه لاره او کوڅه کې وانه چوو، ځکه په هغوی کې مکروبونو ځای نيولي وي. د ناروغتيا د پيدايښت سبب کېږي او ښايي د سيمې خلک ناروغ کړي.**

**زموږ پيغمبر محمد (ص) فرمايلي دي:(نظافت او پاکي د ايمان يوه برخه ده) نو د چاپېريال پاک ساتل زموږ ايماني او ملي دنده ده.**

**هڅووني:**

۱- زده کوونکي دې د پاکوالي په هکله يو له بل سره خبرې وکړي.

۲- د استوګنې د ښه چاپېريال په باره کې دې يوه يوه جمله ووايي.

---

**ښاغلی ښوونکی** دې زده کوونکو ته لارښوونه وکړي، چې په انګړ کې ونه، ګلان، شنه بوټی د استوګنې چاپېريال ته ګټې لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوڅلويښتم لوست

# د روغتيا ارزښت

**هدف:** د روغتيا ارزښت پيژندنه اومراعت کول يې

**روغتيا د الله تعالی له نعمتونو څخه ډير لوي نعمت دی. مورږ بايد د دی لوی نعمت قدر وپيژنو او د هغه په ساتنه کې ډير زيار وګالو. د ځان، جامو او د استوګنځي پاکوالي ته بايد هميشه پاملرنه وکړو. د هغو شيانو له خوړلو څخه چې روغتيا ته مو زيان رسوي ډډه وکړو، د ناپاکو او خامو ميوو خوړل، د ناپاکو اوبو څښل، هم زمورږ روغتيا ته زيان رسوي بايد ورڅخه ځان وساتو.**

**ځينی بد عادتونه، لکه چلم او سګرت څکول نسوار او داسې نور روغتيا ته ډير زيانونه رسوي. بايد له هغوی څخه په کلکه ډډه وکړو. دا رښتيا ده چې (سليم عقل په سالم بدن کې وي.)**

**هڅووني:**

١- زده کونکي دې دګټورو خوړو په هکله بحث وکړی.

٢- د بدو عادتونو زيانونه دې ووايي.

٣- ( سليم عقل په سالم بدن کې وي ) د دی جملې په هکله دې په ډله ييزه توګه خبرې وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## دووه څلویښتم لوست

# پر حیواناتو زړه سوی

**هــــــدف:** په حیواناتو باندی زړه سوي کول.

**لکه څرنګه چې د اسلام مبارک دین د ترحم او شفقت دین دی. نو له همدې کبله یې موږ ته امر کړی دی، تر څو پر حیواناتو او الوتونکو مرغانو باندې زړه سوی وکړو. حیوانات او مرغان هم زموږ په څیر روح او بدن لري. د درد غم، خوشحالي احساس کوي. څرنګه چې موږ نه غواړو څوک مو بندي کړي او ازادي را څخه واخلي، هغوی هم داسې احساس لري.**

**زموږ پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: هغه څوک چې په نورو زړه سوی لري الله تعالی به په دوی رحم وکړي.**

**نو موږ ته لازمه ده، چې په دې باره کې لاندې ټکي په پام کې ونیسو:**

**۱_ له کومې اړتیا پرته د ژوندیو حیواناتو بندي کول ناروا او له زړه سوي څخه لرې کار دی.**

**۲_ له ځالو څخه د مرغانو د بچیو لرې کول ناروا کار دی، ځکه دا کار د هغوی د مور او پلار د ځوروولو سبب او یا د هغوی د مړینې لامل کیږي.**

**۳_ په کورنیو حیواناتو باندې د هغوی له وسې څخه زیات بار اچول هم له زړه سوي څخه لرې دی.**

**هغه حیوانات چې زموږ په واک کې دي، باید په ټاکلي وخت کې هغوی ته اوبه او واښه ورکړو او له وهلو او ټکولو څخه یې، چې د ترحم او انساني اخلاقو خلاف دي، ځانونه وساتو.**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې پر حیواناتو باندې د زړه سوي په هکله یو له بل سره خبرې وکړي.

**ارزونه:** ایا زده کوونکي پر حیواناپو باندې د زړه سوي سره آشنا شوي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## درېڅلوېښتم لوست

# رښتيا ويل

**هدف:** زده کوونکو ته د نيک عادت او رښتيا ويلو او له درواغو څخه کرکه کولو يادول.

آيا رښتيا ويل ولې ښه کار دی؟

**نيکي او رښتيا ويل د هر مسلمان دنده ده. مونږ مسلمانان بايد تل رښتيا ووايو.**

**رښتيا ويونکی انسان د هرچا خوښ وي او درناوی يې کوي.**

**نيکي او رښتيا ويل انسان بريالی کوي. د هر مسلمان دنده ده، چې له درواغو څخه ځان وساتي. خلک له درواغجن انسان څخه نفرت کوي، او درواغ ويل د اسلام په مبارک دين کې لويه ګناه ګڼل شوې ده.**

**هڅوونې:**

زده کوونکي دې د نيکۍ او رښتيا ويلو په هکله يو تر بله خبرې وکړي.

زده کوونکي دې د رښتيا ويلو ګټې بيان کړي.

**ارزونې:**

آيا زده کوونکي د رښتيا ويلو په هکله په څه پوه شوي دي؟

ښاغلی ښوونکی دې د رښتيا ويلو ګټې او د درواغو تاوان زده کوونکو ته بيان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورڅلویښتم لوست

## توبه

**هدف:** د توبې مفهوم ته د زده کوونکو پام اړول

**توبه د الله لوري ته د ورګرځېدلو په معنا ده.**

**دعقل خاوند پوهېږي چې له توبې څخه بل هیڅ کار ګټور نه دي.**

**له ګناه څخه توبه کول هغه یوازینی کار دي، چې الله تعالي پري خوښیږي.**

**توبه کول یو مثبت بدلون دي، چې له الله څخه د وېرې په نتیجه کې د بنده په زړه کې را منځ ته کیږي او د انسان پاملرنه د خداي تعالي لوري ته ورګرځوي.**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې د توبې د مفهوم په هکله په ډله ییزه توګه خبرې وکړي.

**ارزونه:**

آیا زده کوونکي د توبې په مفهوم باندې پوهیدلي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځه څلوېښتم لوست

# د وخت ارزښت

**هدف:** د وخت ارزښت ته د زده کوونکو پام ګرځول

**وایو چې د وخت بیه تر سرو زرو څو برابره زیاته ده، ځکه چې بل هر ګران بیه شئ پیدا کیداي شي، خو نه شو کولای چې له لاسه تللی وخت بیرته لاس ته راوړو او یا وخت له چا څخه واخلو.**

**پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) د یو حدیث په ترڅ کې د وخت اهمیت بیانوي او وایي چې د الله تعالي دوه قیمتي نعمتونه دي، زیاتره خلک ور څخه ښه او مناسبه ګټه نه اخلي، هغه روغتیا او وخت دي. څوک چې خپل وخت له لاسه ورکوي او د علم زده کړه په کې نه کوي، د اسراف کوونکو په ډلې کې به وي.**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې د وخت د ارزښت په هکله په ډله ییزه توګه خبرې وکړي.

**ارزونې:**

١. آیا زده کوونکي د وخت د ارزښت په هکله پوهیدلي دي؟

٢. ښوونکی دې زده کوونکوته داسراف په هکله معلومات ورکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږڅلويښتم لوست

# محمد صلی الله علیه وسلم

**هدف:** د محمد صلی الله علیه وسلم له مبارک سیرت سره آشنايي

**حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د الله تعالی له خوا د پیغمبر په توګه راولیږل شو تر څو خلک له کفر، ظلم او ټولو ناوړه عملونو څخه منع کړي او د یوه خدای (ج) عبادت ته یې راوبولي. هغه (صلی الله علیه وسلم) خلک ورورګلوۍ، یووالي، یو له بل سره مرستې کولو ته وهڅول او په خپلو مینځو کې یې له شخړو او جګړو څخه منع کړل. هغه انسانانو ته د ژوند هغه لاره وښودله چې په دنیا کې د سرلوړۍ او په آخرت کې د نجات او جنت خوا ته تللې ده.**

**محمد (ص) د انسانانو لارښود، رحمت، زیری ورکوونکی او تر ټولو وروستی پیغمبر دی.**

**هڅوونه:**

زده کوونکي دې د محمد (صلی الله علیه وسلم) د ښو اخلاقو په هکله خبرې وکړي.

**ارزونه:**

آیا زده کوونکو د محمد (صلی الله علیه وسلم) د ژوند په هکله څه معلومات تر لاسه کړي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

# تمرين

- حقوق تعريف کړئ؟
- د اخلاقو په باره کې نبي کريم صلى الله عليه وسلم څه فرمايلي دي؟
- د مور او پلار د حقونو په باره کې نبي کريم صلى الله عليه وسلم څه فرمايلي دي؟
- د ښوونکي د حقونو په باره کې د علي (رض) وينا وواياست؟
- له خپلوانو سره  بايد څه ډول چلن وکړو؟
- د چاپيريال د پاک ساتلو په باره کې يو نقلي دليل ذکر کړئ؟
- په اسلام کې د روغتيا ارزښت څومره دی؟
- آيا حيواناتو ته زيان رسول ښه کار دی؟
- خلک ولې ريښتيا ويونکی انسان خوښوي؟
- په اسلام کې د توبې ارزښت بيان کړئ؟
- د وخت د ارزښت په باره کې خپل معلومات وړاندې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library